# داوطلبۍ ته بلنه
# داخلي پرانیستې داوطلبي

**<u>پروژه: دافغانستان بانک لپاره د مختلفو پرنترونو رنګونو چمتو او تدارک کول پروسه</u>**

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1402/NCB/G03**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۲ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1402/NCB/G03** داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **یو کال** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (maqsood.noori@dab.gov.af) برېښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې 1402/03/18 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

**آفر تضمین: بانکي تضمین یانقدی**

۸. د آفر تضمین مبلغ ( 682,110) شپږ سوه دوه اتیا زره او یو سل او لس افغانۍ.
د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1402/03/18 څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵.۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.
یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوي کاپي د اعتبار وړ نه ده.
۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:
**1- د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکاروندوی وي.
2- د تیرو پنځو کلونو په اوږدو کې د کلنی راکړې ورکړې حجم 25،010،700 پنځویشت میلیونه او لس زره او اوه سوه افغانۍ.
3- داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. یوه ورته پروژه لږ تر لږه 13,642,200 – دیارلس میلیونه شپږ سوه او دو څلویښت زره او دوه سوه افغانۍ - یا دوه ورته پروژی لږ تر لږه 22,737,000 دوویشت میلون او اوه سوه او اودیرش زره افغانی په تیرو لسو کلونو کی.
د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې **تولیز ارزښت** (: **5,684,250**- پنځه میلیونه شپږسوه څلور اتیا زره او دوه سوه او پنځوس افغانۍ)
۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمۍ د وروستۍ نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

یادونه:د داوطلبۍ څخه مخکې غونډه د چهار شنبې په ورځ 1402/03/10 نیټه دسهار په 10:00 بجو د تدارکاتو لوی آمریت کې ترسره کیږی.

د آفر د سپارلو پته:
د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

برېښنالیک: maqsood.noori@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af